# An Analysis Of Some Poetic Modern Genres In Pashto Poetry
# پښتو شاعرئ کښې د ځينې منظوم جديد اصنافو تجزيه

**Karan Khan***

**Abstract:**
Every literature of the world has the tendency to evolve gradually introducing new experiences by the writers for making life better to best. Literature discusses values, norms, customs, traditions, cultures, civilizations and many more to make things symmetrical to the ever changing global scenario. Changing Shifts in cultural values is the need of the day. New experiences are made in music, technological accessories and attitudes to be admissible to the world societies. No a single literature would likely to move ahead with outmoded rituals structured in a literature. It is because the needs of life are ever changing with the changing global changes. The structural poetic styles and stylistics of literature are going to adopt new framing worldwide and Pashto Poetic structural forms are also showing the tendency of changing. These poetical styles and forms are structured in the form of genres and Pashto literature has experienced some new genres to be analytically discussed in this research paper.

The modern genres brought about in Pashto literature introduced in are of two types. The first type of genres is typically indigenous introduced by the Pashto based on some folk or classical formats bringing some changing in the lyrical meters and stylistics. It is creative trend and Pashto poets are striving to introduce through empiricism. These genres are Tapaeza, Takoriza, Tekaeza, Taskenai, Ghariza and some more. The genres brought into Pashto Poetry form foreign literatures are Hikoeza, Sonnet, Limerick, Triovelet and some more.

The second type of genres introduced in Pashto poetry is the mimicry or copy of foreign genres of various literatures of the world. This modern trend in Pashto Poetry is popular in Pashto poetry and widely recognized and followed by the writers.

Modern genres introduced in Pashto literature are gradually evolving and new experiences are being made by the poets. These modern genres are analytically discussed in this paper to enrich Pashto literature with diversification of genres.

**Key Words: Genres, Modern, Tapaeza, Takoriza, Ghariza, Hikeeza, Triolet, Limerick & Sonnet.**

---

* **PhD Scholar Pashto Academy, University Of Peshawar.**

پېژندګلو:

جديد اصناف هغه اصناف دي چې پښتو ادب کښې د کلاسيک نه پس راغلي دي۔ پښتو منظوم ادب کښې دا اصناف په تجرباتي بنياد متعارف شوي دي۔ پښتو جديد منظوم ادبي اصنافو کښې په تجرباتي بنيادونو تشکيلات روان دي۔ د دې دوه برخې دي يو هغه اصناف دي چې د پښتو خپلو اصنافو کښې د ساخت او شکل په بنياد په وزن، بحر او مصرعو کښې بدلون شوے دے۔ دويم هغه اصناف دي چې د نور ژبو نه پښتو ته په تجرباتي تشکيلاتو کښې راغلي دي او پښتو منظوم ادب خپل کړي دي۔ د دې شروع په شلمې پېړۍ کښې شوې ده خو زيات تشکيلات په کښې په يوېشتمې پېړۍ کښې شوي دي۔ دا منظوم ادبي اصناف اوس د پښتو ادب برخه ګڼلے شي۔

د پښتو خپل جديد منظوم ادبي اصناف په روايتي منظوم اصنافو ساختونو کښې اضافه يا بدلون دے۔ د نوي تشکيلاتو نه مقصد د نورو ادبياتو منظوم اصناف پښتو کښې په تجرباتي بنياد متعارف کول دي۔ دا منظوم جديد اصناف د متعارف کېدو نه پس اوس د پښتو منظوم برخه جوړه شوې ده او لا نورې تجربې په کښې کېږي۔

د جديد منظوم ادبي اصنافو نه مطلب د زړو اصنافو نه بدل ساخت او شکل کښې تشکيلات دي۔ دا اصناف د فولک او کلاسيک نه بدل ساختونه لري او پښتو منظوم ادب کښې ئې مقبوليت ترلاسه کړو۔ دا تشکيلات د شلمې پېړۍ په اخر کښې شروع شو او په يوېشتمه پېړۍ کښې ورته د مقبوليت درجه حاصله شوه۔

منظوم ادبي اصناف:

منظوم ادبي اصناف په شاعرۍ کښې د يو خاص ساخت او فورم په قالب کښې د يو نظم ليکل دي چې شاعران پرې تجرباتي هڅې کوي۔ يو خاص صنف ځان له خپل وزن، بحر او د مصرعو شمېر لري۔ د دې حساب په سپلابونو هم اډانه وي۔ د دې اصنافو موضوعات او اصطلاحات هم بدل کېدےشي۔ د صنف ساخت يا فورم په تکنيکي حواله ځان له خپل جوړښت لري۔

"ژانر (Genre) فرانسوي کلمه ده چې د نوع يا ډول معنا لري۔ ادبي اثار د شکل يا تکنيک له پلوه د يوه يا بل ژانر نه مختلف وي يا هر ادبي فورم يا جوړښت ته ژانر يا صنف وئيلے شي۔"[i]

پښتو منطوم ادب کښې روايتي اصناف فولکلوري او کلاسيکي شامل دي۔ فولکلوري منظوم اصناف د پښتو منظوم خپل تشکيلات دي او کلاسيکي منظوم اصناف د عربۍ او فارسۍ نه راغلي دي۔ په کلاسيکي اصنافو کښې اکثر د عربۍ نه نېغ په نېغه يا د فارسۍ او اردو ادبياتو په لاره راغلي دي۔ په روايتي فولکلوري منظوم اصنافو کښې ټپه، چاربېته، نيمکۍ، بګټۍ، سندره او لوبه شامل دي۔ په کلاسيکي منظوم ادبي اصنافو کښې غزل، قطعه، رباعي، مخمس، مسدس، مرثيه او داسې نور شامل دي۔ جديد منظوم ادبي اصناف د دې نه په تکنيکي ساخت بدل دي۔

جديد منظوم اصناف:

جديد منظوم ادبي اصناف په تيکنيکي ساخت کښې د فولکلوري او کلاسيکي اصنافو نه بدل پس پښتو ادب کښې مروج شوي دي۔ د پښتو ادب خپل جديداصناف د فولکلوري او کلاسيکي اصنافو په ساخت کښې

تیکنیکي بدلون دے۔ په دې کښې د ټپې نه ټپیزه، ټکورېزه، ټپکئیزه او زنځیرۍ غزل شامل دي۔ د دې نه علاوه ځینې جدید منظوم اصنافو کښې په تجرباتي بنیاد د پښتو ادب خپل جدید منظوم اصنافو تشکیلات دي لکه تسکینۍ، ټپئیز غزل او داسې نور شامل دي۔ دویم قسم هغه تشکیلات دي چې د نورو ژبو نه راغلي دي او پښتو ادب کښې پرې تجرباتي هڅې شوي دي او مقبولیت ورته حاصل شوے دے۔ د نورو ژبو نه راغلي په دې اصنافو کښې هائیکېزه، ټریولټ، لېمرک، سانېټ او داسې نور شامل دي۔

پښتو ادب کښې چې د کومو شاعرانو د جدید منظوم ادب سرخیلانو کښې غني خان، حمزه شینواري، اجمل خټک، قلندر مومند، هاشم بابر، ایوب صابر او یو شمېر نور شامل دي۔ دې شاعرانو د ادبي حلقو تنقید باوجود په جدید منظوم ادب کښې کار کړے دے۔ هغه شاعران او لیکوالان چې پښتو جدید منظوم اصنافو کښې ئې تجرباتي تشکیلات کړي دي، په هغوئي کښې ډاکټر اظهار، ډاکټر صادق ژړک، ډاکټر اسرار اتل، قاسم بنوي، تسکین مانیروال، مجاور احمد زیار او یو شمېر نور لیکوالان شامل دي۔

"په پښتو ادب کښې د شعر ډولونه په کتاب کښې په ازاد شعر ځانګړے بحث شوے دے۔ د پښتو ازاد شعر بنیګڼې او بد ګڼې پېژندل شوي دي۔ په ازادو پښتو منظومو هم په زړه پورې خبرې شوې دي۔"[ii]

په دې تحقیق کښې به په لاندې ورکړي شویو جدید منظوم اصناف سخن بشپړ څېړنه کیږي البته دې سره په ځینې نور جدید منظوم اصنافو به سرسري خبره کیږي چې راتلونکو سکالرانو دپاره لاره همواره شي۔

پښتو منظوم ادب کښې د جدید اصنافو په حقله لیکونه په شلمه پېړۍ کښې رواج وموندلو۔ په دې اصنافو کښې په شروع کښې نوي یا جدید موضوعات متعارف شوي وو مګر د شلمې پېړۍ په اخر کښې داسې جدید اصناف متعارف شول چې د ساخت، فورم، وزن، بحر او تیکنیک په بنیاد د فولک او کلاسیک نه بدل دي۔ دا اصناف خپل جدید اصطلاحات لري چې د نوم نه ئې د متعلقه ساخت اندازه لګي لکه د ټپې نه ټپئیزه او داسې نور اصناف دي۔ پښتو منظوم ادب کښې چې کوم جدید اصناف متعارف شوي دي، په هغې کښې لاندې ورکړي شوي اصناف د یاد وړ دي۔

١ ټپئیزه
٢ هائیکیزه
٣ کاکړېزه
٤ څریکه غزل
٥ ټکوریزه
٦ ادبي توتې
٧ سپین شعر
٨ سانېټ
٩ ټریولټ
١٠ لیمرک

## ١ ټپئیزه:

ټپئیزه د پښتو جدید منظوم ادبي هغه صنف دے چې زیات مقبولیت ورته حاصل دے۔ په دې صنف زیات شمېر کتابونه لیکلي شوي دي۔ د دې صنف بنیاد په ټپه ولاړ دے او هغه ټپئیزه خالص په معیار پوره ټپئیزه ګڼلے شي چې د ټپې موضوع سره ئې د نورو مصرعو موضوع هم یو شان والے لري۔
د معیاري ټپئیزې ساخت کښې پېنځه مصرعې وي۔ د دې صنف تیکنیکي ساخت په لاندې ډول دے۔
ړومبی مصرعه: ۹ سېلابونه
دویمه مصرعه: ۹ سېلابونه
دریمه مصرعه: ۹ سېلابونه
څلورمه مصرعه: ۹ سېلابونه
پېنځمه مصرعه: ۱۳ سېلابونه
د یوې پوره معیاري او مقبولې ټپئیزې د ساخت پوره شمېره ۴۹ سېلابونه لري۔ دا دې هم یاده وي چې اخري دوه مصرعې دراصل یوه فولکوري ټپه وي او د دې ټپې موضوع سره سمې درې ړومبی مصرعې د یو شاعر یا لیکوال احتراع شوے تجرباتي تشکیل وي چې یو شان اهنګ لري۔

"اوسني سندر غاړي لومړے څو ټپئیزې یا هم هغه د بګټیو بندونه وائي بیا ورپسې یو سروکي څو ځلې تکراروي۔ ورپسې یوه نغمه نیسي بیا څو ټپئیزې، سروکي او نغمه په هم دې ترتیب سره تر پایه پورې په دې معنا چې دوئي د دغه ډول شعرونو د سندریز کولو د پاره د سر بیت یا د هنر مندانو په اصلاح استیائي نه ده ټاکلې۔"[iii]

د ټپئیزې په اهنګ کښې یو داسې قسم رواني ده چې دا ځان ته پوره یو مضمون او سر او تال لري۔ دا صنف فنکاران ډېر په خوند وائي او اورېدونکي ئې د متاثر کېدو نه بغېر نه پاتې کېږي۔ په دې صنف د نن نه لسګونه کالونه وړاندې د لغمان یو اولسي شاعر سید باو جان تجرباتي هڅه کړې وه او سندرغاړو زمزمه کړې وه۔ په سندرغاړو کښې ملا استاذ د یاد وړ دے چې دا ټپئیزې ئې زمزمه کړې دي۔

چې ستا یادونه راپه زړه شو
زاړه زخمونه راپه زړه شو
په وینو سره زما لیمه شو
څوک مې له حاله خبر نه شو
لکه غنم د زړه په سر چاودلے یمه"[iv]

د ټپیز یا ټپئیزې په حقله د پوهندویه سکینه زیار یو کتاب مخې ته راځي چې ټول کتاب یو سل دوه نوي (۱۹۲) صفحې دے۔ د دې کتاب د پېښون نوم د پوهاند م۔ ا۔ زیار سره تړي۔ دا کتاب د "ټپیز غور چاڼ" په نوم دے۔ یاد کتاب په ۲۰۱۸ کښې د دانش خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوے دے۔ د دې کتاب اهمیت له دې کبله زیاتېږي چې د ټپئیزو وړومبے تاریخ ۴ مارچ ۱۹۹۷ لیکي۔ کومه ټپیزه چې دې تاریخ سره تړې هغه لاندې ورکولے شي۔

د ټپئيزې تشکيل په حقله د ليکوالانو اراء مختلفي دي۔ سکينه زيار د يو کتاب نوم راوړي چې پېيون ئي د م.ا. زيار سره تړي او نوم ئي " غور چاڼ" دے۔ دا کتاب په کال ۲۰۱۸ ء کښې دانش خپرندويه ټولنې چاپ کړ دے دے۔ په دې کتاب کښې چې کومې ټپئيزې ورکړې دي، په هغې ړومبے تاريخ مارچ ۴، ۱۹۹۹۷ ښائي۔

"مرور ياره راپخلا شه
د مينې درد ته مې دوا شه
د بې سحره شپو رڼا شه
يو ځلې بيا په دې لار راشه
پر پخوانو پلونو دې پرېوتل گردونه"۷

د ډاکټر حنيف حېران د ټپئيزو کتاب " يو ځلې بيا په دې لار راشه " د چاپ په حواله ړومبے کتاب گڼلے شي۔ دا ځکه چې غور چاڼ کتاب د چاپ په حواله ړومبے نه شي گڼلے۔

## ۲ ټکوريزه:

د ټکوريزې ساخت بنياد هم په ټپه اړانه دے۔ په دې صنف کښې شپږ مصرعې دي چې ړومبۍ څلور وړې مصرعې هم اهنگ وي او اخر کښې دوه مصرعې يوه فولکلوري ټپه وي۔ د ټکوريزو په حقله هم دا خبره واضحه ده چې د شپږ مصرعو دا نظم نه د موضوع په حواله يو شان وي۔ د ټکوريزې ړومبۍ څلور مصرعې پينځه پينځه سپلابونه لري او اخرې دوه مصرعې ټپه وي چې ړومبۍ مصرعه ئې نهه سپلابونه لري او اخري مصرعه ئې ديارلس سپلابونه لري۔ د دې ټول نظم پوره ساخت ۴۲ سپلابونه لري۔ د ټکوريزې ساخت او يوه بېلگه په لاندې ډول دي۔

ړومبی مصرعه: ۵ سپلابونه
دويمه مصرعه: ۵ سپلابونه
دريمه مصرعه: ۵ سپلابونه
څلورمه مصرعه: ۵ سپلابونه
پينځمه مصرع: ۹ سپلابونه
شپږمه مصرعه:۱۳ سپلابونه
ټکوريزه ساخت ۴۲ سپلابونه

د ټکورېزې ساخت بېلگه:

په زړه اورېږي
رانه تېرېږي
لکه باران چې
بېرته ودرېږي
د پسرلي گلان توکېږي
پېغلو په څنو کښې تومبلي سره گلونه

ټکوريزه هم ډېر ښه اهنگ لري او فن کاران ئې ډېر په خوند زمزمه کوي او اورېدونکي ئې زيات دي۔ دا صنف پښتو کښې پوره مقبوليت لري او شاعران په کښې تجرباتي هڅې کوي۔ دا صنف پښتو جديد منظوم ادب کښې يو خاص ترکيبي ساخت لري او د نور صنفونو نه مختلف دے۔

## ۳ کاکړیزه :

کاکړۍ یا غاړې د کاکړو قبیلې فولکوري صف دے او په کاکړیو چې کوم تجرباتي صنف جوړ شوے دے هغې ته کاکړیزه وئیلے شي۔ کاکړۍ غاړې یو شعر او دوه مصرعي لري او د ټپې نه ئې په سپلابونو کښې فرق دے مګر مضمون پوره بیانوي۔ د کاکړیو ساخت کښې اول بند اته او دویم بند ئې هم اته یا اووه دے او یا اول بند اووه او دوهم اته او یا دواړه بندونه اووه او یا دواړه اته دي۔ د معیاري کاکړۍ ساخت هغه وي چې دواړه مصرعي اته سپلابونه لري۔ کاکړۍ غاړې په اول ځل په ۱۳۳۶کښې د شین خالو نارې په نوم مرتب شوے دے۔ دې صنف ته بیا ښېرن کارانو د کاکړیو نوم وټاکلو۔ د کاکړۍ لنډۍ په نوم کتاب په ړومبي ځل صاحبزاده حمیدالله په کال ۱۰۶۷ء کښې خپور کړو۔

پروفیسر سیال کاکړ او سید خیر محمد عارف کتابونه هم موجود دي۔ په کاکړیو کښې کړۍ غاړې هم شته چې اول ځل په کتابي بڼه په کال ۲۰۰۶ کښې سیال کاکړ په کتابي بڼه چاپ کړې۔ دا معیاري غاړې نه دي اوس هم په اولسي کچ په کړو غاړو یادېږي کړې غاړې قافیه بندې نه دي۔
خېرمحمد عارف او سیال کاکړ په کاکړیو غاړو کتابونه لیکلي دي۔ په دې صنف کښې کړې غاړې هم یو صنف دے چې په ړومبي ځل پرې سیال کاکړ په کال ۲۰۰۶ء کښې چاپ کړو۔ دا غاړې قافیه بند نه دي او معیاري غاړې نه دي او اولس ورته کړې غاړې وائي۔ د کاکړیزو بنیاد په کاکړیو دے ځکه د کاکړیو جاج اخیستل ضروري دے۔

> " له یوې مودې راهیسې پر پښتو ټپو باندې هم داسې زیاتونې د (ټپیزو) په نامه، د زلمیو شاعرانو تر مېنځ دود شوي دي او دا دے صادق ژرک پرې کاکړیوغاړو هم خپلې شاعرانه زیاتونې دود کړے اوښائي د ټپیزو پر پله ئې غاړیزې بولي۔"vi

د کاکړیو نه چې کوم صنف د کاکړیزو په نوم تشکیل شوے دے، هغه د ډاکټر صادق ژرک یوه هڅه ده چې پینځه مصرعي لري او هره مصرعه اته سپلابونه لري۔ دا صنف د لوستونکو، فن کارانو او اوریدونکو له خوا وستائیلے شو اوس په کښې تجرباتي لیکونه کېږي۔ د دې صنف دپاره هم دا لازمي ده چې د دې اخري دوه مصرعي به د فولکلور کاکړۍ وي۔ د کاکړیزې پینځه واړه مصرعي د یو مضمون بیانولو په ښبر به وي۔ د کاکړیزو ساخت واړه ۴۰ سپلابونه لري۔ د دې ساخت تشکیل او د کاکړیزې یوه بېلګه لاندې ورکولے شي۔

ړومبۍ مصرعه: ۸ سپلابونه
دویمه مصرعه: ۸ سپلابونه
دریمه مصرعیه: ۸ سپلابونه
څلورمه مصرعه: ۸ سپلابونه
پینځمه مصرعیه: ۸ سپلابونه
ټول ساخت ۴۰ سپلابونه

د کاکړیزې یوه بېلګه په لاندې ډول ده۔

"پردېسي د اور دودنه
پرمیان غوټ پرې کوي زړونه
وچوي تنکي ګلونه
نور بې څه ویایم حالونه

لیا هندوان ګالي لیا نجونه"[vii]

## ۴ هائیکویزه:

هائیکیزه د جاپان هائیکو په ساخت د پښتوجدید منظوم ادب تشکیلي صنف دے۔ دا جاپانے صنف درې هم قافیه مصرعي لرې مګر د دې سپلابونو بحر لنډ وي۔ په هائیکیزه کښې چې کوم صنف په پښتو جدید صنف کښې متعارف شوے دے، د هغې هم درې مصرعي دي مګربحر ئې اوږ دے۔ د پښتو هائیکویزې یوه بېلګه لاندې ده۔

چا راته وائیل چې د سپرلي ورځو کښې
هغه ترې لرې ګرځي ساګو پسي
څکه پتي کښې مې شرشم وکرلي
(د هزارې سیمې شاعر اسماعیل ګوهر، نړی ۳۲/۴ ګنه)

د هائیکویزې ساخت:

ړومبی مصرعه: ۱۱ سپلابونه
دویمه مصرعه: ۱۱ سپلابونه
دریمه مصرعیه: ۱۱ سپلابونه
پوره ساخت: ۳۳ سپلابونه

پښتوجدید نظوم ادب کښې ځینې شاعرانو کښې تشکیلات شروع کړل چې د ادب کښې د تنوع یو ښه کاوش دے۔ د دې مخالفت هم اوشو خو اولس کښې ئې مقبولیت وموندلو او شاعران په کښې تشیکیلات کوي۔ هائیکو کښې طنزیه تشکیلات د اولسي ذوق یو مقبول صنف ګرځېدلے دے۔

"هائیکو هغه منظوم فورم دے چې د مصرعو د شمېر له مخې د درېیزې په نوم هم یاد شوے دے۔ د دغه فورم ویناوال او یو شمېر ادب څېړونکي وائي چې دغه فورم له جاپاني ادب نه پښتو ته راغلے دے۔"[viii]

پښتو جدید منظوم ادب کښې د کومې هائیکو ساخت ته مقبولیت حاصل دے او یو معیاري ساخت ګڼلے شي، هغه د دریو مصرعو د یولس سپلابونو هائیکویزه ده۔ دې ته د درئیزې نوم هم تجویز شوے وۀ مګر هائیکویزه وتاکلے شو۔ د پښتو هائیکویزه په ساخت او جوړښت کښې د جاپان د هائیکو نه مختلفه ده۔ د جاپان هائیکو ډېر لنډ بحر لرې البته د جاپان په هائیکو کښې پوره یو مضمون ځایولےشي۔ دغه شان د پښتو په هائیکوئیزه کښې هم یو پوره مضمون بیانولے شي۔

## ۵ څریکه غزل:

څریکه غزل د پښتو جدید منظوم ادب یو صنف دے چې د مصرعو شمېر ئې شپږ دي خو ړومبۍ مصرعه یو ځل بیا په اخر کښې تکراریږي۔ د څریکي ړومبي درې بندونه لکه د ټپې ړومبۍ مصرعي په شان ۹ سپلابونه لرې۔ څلورمه مصرعه ئې دیارلس سپلابونه، پینځمه مصرعه ئې دیارلس سپلابونه او اخري مصرعه ئې یو ځل بیا د ټپې د ړومۍ مصرعې په شان نهه سپلابونه لرې۔ په دې صنف کښې قیصر افریدي، روښان یوسفزي او فاروق مظهر تجرباتي تشکیلات کړي دي خو اولسي مقبولیت ورته حاصل نه

شو۔ که په دې صنف تجرباتي کار اوشي او په موسيقۍ کښې وړاندې شي نو د مقبوليت هيله ترېنه کېدے شي۔ د دې صنف طبع ازمائي په ړومبي ځل په سه ماهي مجلې "جرس" کښې په دويمه او څلورمه سلسله کښې د څرېکي په نوم په کال ۱۹۹۱ء کښې شوې وه۔ د دې نه وړاندې د څرېکي دپاره د "ښکالو" نوم هم تجويز شوے وۀ مګر د ګوهر په وينا د دې نوم څرېکه شو۔ په دې صنف کښې قيصر افريدي او روښان يوسفزي طبع ازمائ اوکړه او په تجرباتي بنياد ئې څرېکي وليکلې۔ په څرېکي کښې اهنګ هم شته او په يو خاص مضمون پرې پوره ښه تشکيل امکان لري۔

د څرېکي ساختياتي جوړښت او يوه بېلګه په لاندې ډول دي۔

ړومبی مصرعه: ۹ سېلابونه
دويمه مصرعه: ۹ سېلابونه
دريمه مصرعه: ۹ سېلابونه
څلورمه مصرعه: ديارلس سېلابونه
پينځمه مصرعه: ۹ سېلابونه

د څرېکي يوه بېلګه:

"ځانګه به نن صبا کښې ګل شي
چمن ښائسته به د بلبل شي
سپرلے به راشي په وطن کښې
ما ئي په سر کښې سرې غوټۍ ليدلي دينه
د مايوسۍ زندان به دړې وړې شينه
ځانګه به نن صبا کښې ګل شي

قيصر افريدے د څرېکو تجرباتي هڅه کوي او يو ښه معياري ساخت تشکيل کښې کامیابي مومي البته دې ساخت ته پوره پام لرنه نه کول د څرېکي ناکامي کېدے شي۔ جديد منظوم ادب دپاره لازمي ده چې دې کښې پرله پسې تجرباتي ليکونه اوشي او هر چا ته د دې اواز اورسي۔ د ټپئيزې د کاميابۍ يوه وجه دا هم ده چې ټپئيزه ډېرو فنکارانو زمزمه کړه او د اصل ساخت سره په اولس کښې مقبول عام شوه۔

د څرېکي اهنګ د موسيقيت دپاره ډېر موزون ګڼلے شي۔ په جديد اصنافو کښې څرېکه يو ښه معياري صنف کيدے شي که چېرې په دې کښې په ښو موضوعاتو تشکيلات اوشي۔ دا صنف شپږ مصرعې لري او په شپږو مصرعو يا بندونو کښې ښه تشکيلات امکان لري۔

## ۶ سپين شعر:

سپين شعر د پښتو منظوم ادب يو اوږد ازاد صنف دے چې هره مصرعه يا بند ئې ازاد وي۔ د دې مصرعو شمېر معلوم نه وي۔ د دې په حقله دا وينا کېږي چې په سپين شعر کښې سپينه وينا بيان شوي وي۔ د سپين شعر هره مصرعه ازاده وي مګر اهنګ او وزن ئې يو شان وي۔ دا اوږد نظم وي خو يو مضمون په کښې بيان شوے وي۔

"ځيني پوهان ازاد شعر او سپين شعر په يوه مفهوم او دوو ماناو پېژني او وائي چې دا دواړه شعرونه دي چې له عروضي اوزانو نه ازاد دي۔ د ژبو د لغاتو د رامينځ ته کېدو په قانون کښې وئيل شوي چې هېڅ کله دوه نومونه يا مورفيمونه د زيربدو پر مهال د يوې پديدې لپاره نه دي پيدا شوې بلکې د زمانې په تېرېدو سره د بېلا بېلو ټولنيز تاثيراتو له امله ځيني دوه نومونه په يوه مفهوم کارول کېږي۔"[ix]

"لامې د ژوند کېسه تمامه نه ده
راته منزل راته مورچل پاتې دے
چېرته به خلکو بې وصيته مرمه
د کوم ماښام د کوم دېوال غاړې ته
جنګ تجارت او کارو بار جوړ شوے
سرونه خرڅ شول د وړيو په تول
تول ته هم داسې منصفان ناست دي
وينه څکي بيا ئې قيمت لګوي
د کوم سېلاب مخې ته بند وتړم
ختين کورونه ئې رانه ټول يوړل
اے د بې پښو او بې لاسو کليه
اے د کپريو او د زلمو هديرې
دا څمکه وشکوئ راوځئ ترېنه
راته پيغور ئې ستا د وينو راکړو
مدهوش د حورو په پالنګ پراته ئې
راځم دې خپل بې برخليکه ژوند ته
څه سر ويشته ورته په کار ده که نه
دا تحول راځي په هر يو ملک کښې
زمونږ تحول لګيا سرونه يوسي
اے ګاونډيانو د الله په نامه
بس موړه پرېږدئ سوله مه راولئ
عالم بردارو د نړۍ په سطحه
ډېر مو لوټلي يو د امن په نوم
يو خوا د سولې امن چيغې وهئ
بل خوا وسلې او مهمات رادرومي
هلته حقوق د بشريت غواړئ
نو بيا بشر په بشر ولې وژنئ
بشر دوستانو قناعت غواړم
څنګه ونه چوم څنګه اور وانخلم"[x]

سپين شعر کښې سپينه خبره کېږي۔ د دې يو مثال د مطيع الله تراب شاعري ده چې د معاصر دور شخړې په کښې په ازاده بيانوي۔ په داسې صنف اهنګ او موسيقيت وي او په اوريدونکو اثر پرېباسي۔ په دې صنف کښې ډېر په اسانو لفظونو کښې په يوه موضوع په ازادانه طريقه تشکيل امکان لري۔ په دې صنف کښې وزن، بحر او اهنګ وي خو قافيه او رديف نه لري۔

٧ ادبي ټوټې:

پښتو جديد منظوم ادب کښې يو صنف ادبي ټوټې دے چې د بيان انداز ئې شعري دے مګر جوړښت او ساخت ئې د نثر دے۔ په ادبي ټوټه کښې يوه واقعه هم بيانېدے شي۔ د ادبي ټوټې د مصرعو شمېر معلوم نه وي او نه د دې دپاره کوم خاص چوکاټ وي۔ دا نثري بيان لري او اکثر د حقيقت نګارۍ ليکونه په کښې

کېږي چې لوستونکو دپاره نصیحت اموز مضمون لري۔ په ادبي ټوټو اناهیتا روهي د "تربتي چغې" په نوم یو ادبي ټوټې تشکیل کړې دي۔

"د هنري ادبیاتو یو ځانګړے ډول دے چې ادب پوهانو د "منثور شعر" په نوم هم یاد کړے دے۔"[xi]

اصغر هاشمي د ادبي ټوټې په حقله لیکي چې دا نثري لیکونه دي چې په کښې مخلف قسم موضوعات بیانیږي۔ د ټولنیز ژوند پېښو ته په ژور نظر ګوري۔ په ادبي ټوټې کښې یو لیکوال په لوړو لفظونو او کلماتو تشکیلات کوي چې په کښې جذبه او احساس موجود وي۔ د ادبي ټوټې ساخت د لنډو او اوږدو سپلابونو وي مګر ډېر زیات اوږد ساخت نه لري۔ په ادبي ټوټې کښې اهنګ کم وي مګر بیان په کښې ډېر صاف او واضح وي۔ دا یو داسې صنف دے چې د نظم او نثر په مېنځ کښې یو شکل لري۔ اګرچې دا صنف د قافیې، ردیف او وزن بحر نه ازاد وي مګر بیا هم د وینا په مهال یو اهنګ ضرور لري۔ د ادبي ټوټې جوړښت د دریو مصرعو نه واخله تر لسو نه زیاتې هم کېدے شي۔ د یوې ادبي ټوټې بېلګه په لاندې ډول ده۔

"هو!
د شعر اخري قافیه مې هم
ستا له ناڅاپې تلنې پر ردیف له لاسه ورکړه
اوس نو هغه ټپې سر تېرې ته ورته یم
چې په کوچنی وسله د جګړې په اخر کتار کښې د
دښمن پر وړاندې جنګېږي
له لنډکیو شعرو پرته ستره شتمنې نه لرم"[xii]

پښتو منظوم ادب کښې د ادبي ټوټو په شان صنفونو د لارې نیولو هڅې شوي دي۔ دا ځکه چې داسې صنفونه د نظم روایتي چوکاټ نه انحراف دے او د اهنګ نه عارې ښکاري۔ په معاصر وخت کښې د پښتو منظوم ادب د نړۍ ادبیاتو سره اشنا شوے دے۔ د پښتو شاعران او لیکوالان د نړۍ ادبیاتو مطالعه کوي او په ازاد چوکاټ کښې د خپلو احساساتو او جذباتو اظهار کوي۔ له دې امله داسې تشکیلات پښتو منظوم جدید ادب کښې متعارف کول لازمي دي۔ دا هم امکان لري چې دا صنف به په راتلونکي وخت کښې ډېر مقبول شي۔ دا ځکه چې د نړۍ په اکثرو ادبیاتو کښې د نظم روایتي شکل نه انحراف روان دے۔ پښتو ادب کښې په تجرباتي بنیادونو په ادبي ټوټې کښې لیکونه شوي دي۔

## ۸ لېمرک: Limerick

د لنډ ساخت هغه صنف چې پینځه مصرعې لري، هغه ته لېمرک وئیلے شي۔ د دې صنف ړومبۍ دوه مصرې په خپلو کښې هم قافیه وي۔ بیا دوه مصرعې هم قافیه ساخت لري او اخري مصرعه ئې ازاد بڼه لري۔ د دې صنف ړومبۍ دوه مصرعې یو شان بحر لري او وروستې دوه مصرعې یو شان بحر لري۔ د دې صنف اخري مصرعه ځان له یو وزن لري او دا ازاده مصرعه وي۔

"A type of light verse and a particularly popular from verse form in English. It usually consists of five pre-dominantly and pre-aestic line rhyming aabba, as in:

There was a young person of Mullion
Intent upon marrying bullion
By some horrible fluke
She jilted a duke
And had to elope with scullion”[xiii]

" د وړوکي نظم یو ساخت چې د انګرېزۍ ژبې نه ماخوذ دے او ډېر شهرت لري۔ په دې نظم کښې په عامه توګه زیاتره پنځه موزون مصرعې د الف الف، با با او الف په ساخت کښې لري۔ لکه چې لاندې کرښو کښې راځي۔

د مولیئن یو ښکلي ځوان
وعده اوکړه د واده د بولئین سره
داسي څه ناځاپي اوشوه
هغې نواب ته دغا ورکړله
وتښتېده د سکولیئن سره"

دا صنف پښتو جدیدو اصنافو کښې راځي او په دې صنف لیکونه شوي دي او په تجرباتي بنیادونو په کښې تشکیلات روان دي۔ د دې صنف په مقبولیت او رد اوس کومه خاص تجزیه کول به قبل از وقت وي۔

٩ ټرېولټ:

د فرانسوي ژبې یو صنف چې اته لنډې مصرعې لري، ټرېولټ ګڼلے شي۔ د دې صنف ړومبۍ دوه مصرعې جوړښت لړ شان اوږدې وي۔ ورپسې بیا یوه لنډه مصرعه وي، بیا یوه مصرعه د ړومبۍ دوه مصرعو جوړښت په شان وي، بیا دوه مصرعې د درېمې مصرعې په شان وي۔ په اخر کښې دوه مصرعې د ړومبۍ مصرعو په شان وي۔ دې ته ټرائیولټ د ړومبۍ درېو مصرعو له امله وئیلے شي۔ دا صنف په مغربي ملکونو کښې د طنزیه شاعرۍ له کبله شهرت لري۔

په شروع کښې چې کوم ټریولټ په انګریزۍ ژبه کښې تشکیل شوي دي، هغه د فطرت په حقله دي۔ د فطرت ژغورلو دپاره د ټریولټ صنف په شکل کښې په کال ١٦٥١ کښې یو پادري پټرک بیني ډکټ په فرانس کښې تشکیل شوي وو۔ په کال ١٨٤٣ کښې رابرټ برجز په انګریزۍ ادب کښې یو ځل بیا متعارف کړو۔ د اسټېن ډابسن پېنځه برخې " روز لېور" یو افاقي نظم دے۔

Rose kissed me to-day.
Will she kiss me to-morrow?
Let it be as it may,
Rose kissed me to-day,
But the pleasure gives way
To a savour of sorrow—;
Rose kissed me to-day—,

Will she kiss me to-morrow?

نن ګلاب ښکل کړمه زه
که سبا بیا ما ښکل کړي
لکه چې بیا ئې ښکل کړم
دا خوشالي داسې ده
لکه چې غم ئې راکړو
چې نن ئې بیا زه ښکل کړم
سبا به بیا څنګه شي

د ټرېولټ نظمونه په جرمني هالسبنډ ښار کښې په ۱۷۹۵ء کښې او په برانسویک ښار کښې په کال ۱۷۹۶ء کښې خپوره شوي دي۔ دا صنف د فرانس او جرمني نه پښتو ادب کښې نبغ په نېغه راغلے دے۔ د پښتو لیکوالان اوس د نړۍ د هرې ژبې نه استفاده کولے شي۔ دا صنف اګرچې د پښتو خپل صنف نه دے مګر دې کښې تجرباتي هڅې رواني دي او امکان لري چې راتلونکي وخت کښې په ټرېولټ کښې تشکیلات اوشي۔ د ټرېولټ یوه بله بېلګه په لاندې ډول ده۔

نن زما د زړهٔ په اور
بله ډیوه بله شوه
غواړمه چې شي ټکور
نن زما د زړهٔ په اور
اومومي سرور او سور
بیا هر یو زېلے زړهٔ
نن زما د زړهٔ په اور
بله ډیوه بله شوه

۱۰ سانېټ:

سانېټ د ۱۴ مصرعو نه جوړ یو منظوم صنف دے چې اوس په پښتو جدید منظوم ادب کښې رواج لري او مختلفو شاعرانو په کښې تشکیلات کړي دي. د دې صنف جوړښت داسې دے چې څلور څلور قالبونه لري۔ لومړي درې قالبونه دولس مصرعې لري چې هر قالب کښې څلور مصرعې وي۔ اخري قالب کښې دوه مصرې وي۔ د دې صنف دا اخري دوه مصرعې یو کاپلټ وي چې د پوره صنف مفهوم بیانوي۔ د دې صنف اخري پېغام هم په دې دوه مصرعو کښې وي۔

"د سانېټ په باب لغوي او اصطلاحي ښننه داسې ده چې سانېټ (Sonnet) ایټالوي لفظ دے چې له سونېټو (Sonetto) څخه اخیستل شے دے دا هغه منظوم لفظي فورم دے چې له ۱۴ مصرعو څخه رغېدلے چې دلته د مصرعو شمېر لکه د لنډۍ په څېر څرګند دے۔" [xiv]

سانېټ د اطالوي ادب د سانېټو نه اخذ شوے دے چې معني ئې وړې سندرې ده۔ په سانېټ کښې څوارلس مصرعې وي۔ د دې یو ساخت داسې هم وي چې ړومبۍ جوړښت ئې اته مصرعې وي او دویم قالب ئې شپږ مصرعې وي۔ په دې صنف کښې یو خیال بیانولے شي او اکثر د مېنې اظهار په کښې کېږي۔

یو شاعر په کښې د خپلو احساساتو اظهار کوي۔ پښتو ادب کښې سانېټ ډاکټر زبېر حسرت، هاشم بابر،، اشرف مفتون، فېصل فاران او سليم راز ليکلي دي۔ د سانېټ يوه بېلګه په لاندې ډول ده۔

ځومره خوږې دي د اشنا خبرې
زړه ته نزدې د دلربا خبرې
ځان له چې ناست يم هغه وخت يادوم
چې به کولې تا او ما خبرې

دنيا په تيره ده چې مونږه نه يو
خلق به کړې زما او ستا خبرې
د ژوندانه د روداد ټوله قيصې
څه د خندا څه د ژړا خبرې

ما د ربيار د خلې به تل اورېدې
ځيني خطا څه وار خطا خبرې
د رقيبانو خله سورې نغاره
چرته چې کښيني کړې په ماخبرې

سحر سبا د هر بلبل په ژبه
طائره اورمه يو ستا خبرې[xv]

پښتو ادب کښې جديد منظوم ادبي اصنافو نه مطلب هغه اصناف دي چې د ساخت، فورم او جوړښت په بنياد د فولکلور او کلاسيکي اصنافو جوړښت نه بدل شکلونه لري۔ پښتو جديد اصناف يو هغه دي چې د پښتنو ليکوالانو او شاعرانو خپل ځائي تشکيلات دي چې هغې کښې ټپئيزه، ټکوريزه، ټيکئيزه، تسکينی او هائيکيزه شامل دي۔ د پښتو دويم قسم جديد منظوم اصناف هغه دي چې د نورو ژبو او ادبياتو نه پښتو ته د ژباړو او تقليد په شکل کښې راغلي دي او پښتو ادب خپل کړي دي او پښتو ادب کښې په کښې تشکيلات شوي دي۔ د دې مثالونه سانېټ، ترېولټ، لېمرک، ترائکا او داسې نور اصناف دي۔

---

[i]هاشمي، سيد اصغر، پوهيالے، د ادبي اصطلاحاتو سيندګے، دانش خپرندويه ټولنې تخنيقي څانګه، ۱۳۹۳ لمزريز، مخ ۱۱، ۱۲۔
[ii] هاشمي، سيد عبدالله، په پښتو ادب د شعر ډولونه، افغانستان د قلم ټولنه، ۱۳۹۰ لمريز، مخ ز۔
[iii] مينه (خپلواکه، کلتوري او هنري خپرونه) مجله، ګڼه ۵۶، ننګرهار جلال آباد، مئي ۲۰۱۳، مخ ۱۱
[iv] مينه (خپلواکه، کلتوري او هنري خپرونه) مجله، ګڼه ۵۶، ننګرهار جلال آباد، مئي ۲۰۱۳، مخ ۱۵
[v] زيار، سکينه، پوهندويه، تېيز غور چاڼ، دانش خپرندويه ټولنه پېښور ۲۰۱۸، ص ۶
[vi] صادق ژړک، محمد، نه وې ستا ښايستې سترګې (لومړی شعري ټولګه)، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، کال ۲۰۱۱م (۱۳۹۰ لمريز)، مخ ۸۔
[vii] صادق ژړک، محمد، نه وې ستا ښايستې سترګې (لومړی شعري ټولګه)، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، کال ۲۰۱۱م (۱۳۹۰ لمريز)، مخ ۷۱
[viii] ازمون، لعل باچا، پوهنوال، پښتو نظم پوهنه (پي ايچ ډي ډيسرټېشن)، کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځے، د ختيځ خپرندويه ټولنې تخنيکي څانګه، جلال اباد، ۱۳۹۷ل۔۲۰۱۸ م کال، ص ۷۴۴
[ix]هاشمي، سيد عبدالله، په پښتو ادب د شعر ډولونه، افغانستان د قلم ټولنه، ۱۳۹۰ لمريز، مخ ۶۵۔
[x] تراب، مطيع الله، سپين بغاوت (شعري ټولګه)، اسد دانش مطبعه، کابل، ۱۳۹۴ لمريز، ۲۰۱۵، مخ ۳۵

[xi] هاشمي، سيد محي الدين، ادب پوهنه (ادبيات او ادبي څېړنې)، د اربک د کتاب ګرځنده کتابتونو اداره، ۱۳۸۱ه، ۲۰۰۲ء، مخ ۵۲.

[xii] عبدالوافي نايېزے، وجدان (لنډې ادبي ټوټې)، مومند خپرندويه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۵ لمريز، مخ ۱۰۴.

[xiii] Cuddon, J.A, Literary Terms and Literary Theory, Penguin books 1999.

[xiv] ازمون، لعل باچا، پوهنوال، پښتو نظم پوهنه (پي ايچ ډي ډيسرټېشن)، کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځے، د ختيځ خپرندويه ټولنې تخنيکي څانګه، جلال اباد، ۱۳۹۷ل-۲۰۱۸ م کال، ص ۷۴۰

[xv] غني، فرزانه، ډاکټر، ادبي اصناف، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۸-۱۹، مخ ۷۰-۱۶۹